مجله علمی- تحقیقی جوزجانان
دوره ۱۶؛ شماره ۱ (مسلسل ۴۳)؛ خزان و زمستان ۱۴۰۲؛ صفحات ۶۵-۷۵

# په پښتو لنډيو کې د ناوړو دودونو غندنه

**هجرت الله قدردان**
پوهنمل، پښتو څانگه، ښوونې او روزنې پوهنځی، جوزجان پوهنتون، شبرغان، افغانستان.
http://orcid.org/0009-0002-6839-1725 - hijratullah.qadardan@gmail.com
(تاریخ دریافت: ۱۴۰۲/۱۰/۱۸ - تاریخ تأیید: ۱۴۰۳/۱/۸)

**لنډيز**

*دغه مقاله چې سرلیک یې «په پښتو لنډيو کې د ناوړو دودونو غندنه» ده، د لنډيو په پېژندنه پیل شوې ده، لنډۍ دپښتو ولسي ادب هغه ژانر دی، چې هر نارینه او ښځینه، ځوان او زوړ، نجلۍ او هلک یې پېژني او ورسره اشنا دي، چې په دې ژانر کې د ژوند د نورو اړخونو ترڅنگ د پښتنو د ناوړو دودونو یادونې هم شوي دي، دغه ناوړه دودونه د ټولنې لپاره د یوې بدې ناروغۍ په څېر دي، چې په ټولنه کې یې ریښې ځغلولي دي او هر وخت ترې پښتنې ټولنه رنځ او تکلیف وړي، چې زما ددې څېړنې په پایله کې به ددې دودونو زیانونه په ښه او همدارنگه ددې ناوړه دودونو د قربانیانو غږ ته، چې د لنډيو په بڼه دی، انعکاس ورکړل شي، ترڅو په راتلوونکي کې ټولنه ددغې ناروغۍ څخه وژغورل شي، ددې څېړنې ډول کتابتوني او ساحوي دی، د لنډيو پېژندنې په اړه معلومات د کتابونو څخه وړاندې شوي او د موضوع اړوند لنډۍ د ساحوي څېړنې په پایله کې تر لاسه شوي دي او د متن سپړنې له روش نه پکې گټه اخېستل شوې ده.*

**کلیدي کلمې:** *پښتانه، دودونه، فولکلور، لنډۍ.*

# Condemnation of bad traditions in Pashto landay

**Hijratullah Qadardan**
Senior Teaching Assistant, Pashto Department, Education Faculty, Jawzjan University, Shebarghan, Afghanistan.
hijratullah.qadardan@gmail.com - http://orcid.org/0009-0002-6839-1725
**(Received: 08/01/2024 - Accepted: 27/03/2024)**

## Abstract

*The title of this article is (Condemnation of bad traditions in Pashto landay). The article starts with the identification of the landay, landay is the genre of Pashto folk literature, which every man and woman, young and old, girl and boy knows and has information about it. In this genre, along with other aspects of life, bad traditions are also mentioned, These bad traditions are like a bad illness for the society, which has been spreading in the society and the society is suffering from it all the time. As a result of my research, the losses of these traditions will be marked and also the voices of the victims of these bad traditions will be reflected, so that in the future the society can be saved from following these traditions, it is better to say that the research is a library and field based research. The information about the Landay is taken from the books and those Landays which Condemn bad traditions collected through field research method.*

**Keywords:** *Pashtons, Traditions, Folklore, Landay.*

**سريزه**

دا چې پښتانه غني فولکلور لري، داسې غني فولکلور چې د ژوند هر اړخ يې په کې بيان او خوندي شوی دی، د راورتې خبره په ځای ده، چې د پښتنو تاريخ ښېرته د دوی په فولکلور کې خوندي دی، نو په همدې حساب پښتانه خپلو فولکلوري ارزښتونو ته ژمن دي او په پالنه يې ځان مکلف ګڼي، خو ددې فولکلور ځينې اړخونه د کتنې وړ دي، چې د همدې کتنې له مخې ما هم هڅه کړې، چې د ناوړه دودونو د مخنيوي په پار مقاله وليکم، ترڅو ټولنه د هغو دودونو ځان خلاص کړي، چې له ګټې يې زيانونه زيات دي، چې دغه ناوړه دودونه په يو ډول نه يو ډول ولس هم غندلي دي او ټولنه په دې پوهيږي، چې د دغه دودونو له امله په کړاو او ستونزه کې ده، خو بيا يې هم پالي، دا دودونه ډېر زيات دي، ډېرې مقالې او اثار پرې ليکل کېدای شي، خو زما دغه مقاله چې سرليک يې (په پښتو لنډيو کې د ناوړو دودونو غندنه) دی، د ناوړه دودونو په اړه مشت نمونه يې خروار ده، يوازې د ګوتو په شمار لنډۍ مې رااخېستې چې د ځينو ناسمو دودونو يادونه او يا غندنه په کې شوې ده، چې په راتلونکي کې به څېړونکي په دې برخه کې لا ډېر کارونه وکړي.

**د څېړنې ارزښت**

زموږ ټولنه د دود په رسۍ تړل شوې ده، خو ځينې دودونه مو ناسم دي، دغه څېړنه به ځينې ناسم دودونه په ښه کړي.

د ولسي ادب د ډېرې مهمې برخې(لنډيو) هغه بېلګې رابېلول، چې د ناسمو دودونو يادونه په‌کې شوې ده.

د رمز په ژبه د ولس او بيا په ځانګړي ډول د ښځو د شکايتونو سپړنه.

د لنډيو په ژبه د شکايت هيلو او غوښتنو انعکاس معلومول.

ددې څېړنې په پايله کې به د ناوړه دودونو زيانونه ښه څرګند شي.

**د څېړنې موخې**

ددې څېړنې موخې په لاندې ډول دي:

د ناوړه دودونو په ښه کول، ترڅو ټولنه يې د پاللو څخه لاس واخلي.

د ناوړه دودونو په پايله کې د رامنځته شوو، پېښو يادونه.

د ناوړه دودونو زيانونه څرګندول.

د ناوړه دودونو قربانيانو غږ ته انعکاس ورکول.

د ولسي ادب د غني برخې (لنډيو) راجمع کول او سپړل.

**شالید**

د لنډیو په تړاو ډېرې زیاتې څېړنې شوې دي او اوس هم جریان لري، ځکه زموږ په ولسي-ادب کې لنډۍ ډېر د بحث وړ موضوعات لري، خو په دې بنه دا لومړۍ څېړنه ده.

**د څېړنې کړنلاره**

لومړی مې سرلیک وټاکلو، وروسته مې ورته ذهني اډانه جوړه کړه، بیا مې د موضوع اړوند پښتو لنډۍ راټولې او د مقالې په بڼه مې ترتیب کړې.

**د پښتو لنډیو پېژندنه**

لنډۍ په پښتو ولسي ادب کې داسې یو ځانګړی شعري ډول دی، چې د معنا د ځواک او لېږد لـه پلوه نه یوازې په پښتو شاعرۍ کې بلکې دنورو ژبو په شاعرۍ کې یې ساری نه دی لیدل شوی .

لنډۍ په پښتو ادب کې ځانګړی ځای او ارزښت لري، دفورم یا بڼې له مخې هغه موزون کلام ته لنډۍ ویل کیږي، چې له دوه مسریو څخه جوړه شوې وي، لومړۍ مسره یې لنډه یعنې نهه (۹) څپې او دویمه مسره یې اوږده یعنې دیارلس (۱۳) څپې جوړوي (زیور، ۱۳۹۶، ص. ۷۲).

لنډۍ قافیه نه لري، خو د دویمې مسرې په پای کې یوه داسې کلمه راځي، چې د لنډۍ ټول اهنګ بشپړوي. هره لنډۍ باید د زور(ه) په واول پای ته رسېدلې وي، که چېرې د دویمې مسرې په پای کې دا زور(ه) رانه شي، نو آهنګ یې نیمګړی پاتې کېږي (لایق، بې تا، ص. ۱۲).

په نورو ژبو کې ددې ډول شعر(البته په همدې وزن او آهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه یې په ژباړه کې دا آهنګ ساتل کیږي.

دلنډیو په رامنځته کولو کې ټول پښتانه برخه لري او د پښتني ولس ګډه پانګه ده، خو ښایي دا ووایو چې مېرمنو پکې زیاته برخه اخیستې ده او ډېرې لنډۍ دښځو لخوا ویل شوي دي.

لنډۍ ډېر پخوانی فورم دی، ددې فورم عمر او نېټه په اټکلي ډول هم معلومیدای نه شي، خو دومره ویلی شو، چې ډېره پخوانۍ نوع ده.

داسې لنډۍ اوس هم شته، چې دحضرت عیسی (ع) وخت څخه مخکې وخت ته منسوبیږي، لکه دا لاندې لنډۍ:

سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه یارمې د ګلو لو کوي ګوتې ریبینه
(ازمون، ۱۳۹۶، ص. ۱۰۲).

لنډۍ د ولسي ادب یو منلی ژانر دی، چې هر سړی پرې پوهیدای شي، ځکه چې د ولسي لهجې سره سم ویل شوي دي، چې خوند، ساده ګي او زړه راښکونتیا پکې پروته ده، لنډۍ په اصل کې دښځو میراث ګڼل کیږي او د هر عمر خاوند نارینه او ښځینه یې وایي او خوند ترې

اخلي، چې په څلورو نومونو لنډۍ، ټپه، مسره او ټیکۍ سره یادېږي، چې د هر نوم تر شا یې یوه کیسه پرته ده (وفا، ۱۳۹۳، ص. ۲۴۳).

لنډیو په تړاو یو تعبیر دا دی، چې لنډۍ دوه سري مار ته ویل کیږي، چې ډېر تېز زهر لري، داچې لنډۍ هم ډېر تېز اثر لري نو ځکه ورته لنډۍ ویل کیږي. لنډۍ ته ټپه هم ویل کیږي، ټپه د ټپ نه اخېستل شوې چې د زخم په معنا سره ده او مطلب یې د زخمي زړه اواز دی. مسره ورته ځکه وایي چې مسره خوږ ږغ ته ویل کیږي او ټپه هم د ډېر خوږ والي څخه ډکه وي او ټیکۍ نوم ورته ځکه ورکړل شوی، چې دکار ټکی یا نقطه پکې پرته وي.(رشیدي، ۱۳۹۹، ص. ۸۷).

ټپه یا لنډۍ د تاریخ لپاره خام مواد دي، چې ډېری پېښې پکې منعکس شوي وي، او مؤرخین کولی شي، چې ترې پوره ګټه واخلي.

**د دودونو پېژندنه:** دودونه د دود جمع بڼه ده، چې رسم، رواج، دستور او عنعنه په نومونو هم پېژندل کیږي، دودونه د ټولنې خلکو د تجربو په پایله کې رامنځته کړي دي، چې له پخوانیو زمانو څخه راپیل شوي او له یوه نسل نه بل نسل ته انتقال شوي او تر دې وخته رارسیدلي دي، خو حتمي خبره ده، چې لږو ډېر تغیر به په کې راغلی وي.

دودونه په افغانانو کې یو پوخ قانون او د ټولنیز دستور حکم لري، په افغاني ټولنه کې د دودونو منل او په ځای کول لازمي خبره ده او حتی په منلو یې هر افغان ځان مکلف ګڼي (سلطاني، ۱۳۹۵، ص. ۱۰۳).

دود د چلن هغه ثابت قواعد او ضوابط دي، چې د زمانې په اوږدو کې تشکیل شوي او په یوه یا بله ساحه کې د خلکو د ژوند لارې چارې تنظیموي (روهي، ۱۴۹۴، ص. ۷۹).

**ناوړه دودونه:** مخکې موږ دودونه وپېژندل، د دغو دودونو په ډله کې پښتانه ځینې ډېر ښه دودونه هم لري، خو ټول ښه نه دي، ځینې دودونه ناوړه او ناسم دي، چې د دغو ناسمو دودونو پالنه بدې پایلې لري، خو بیاهم په ځینو ځایونو کې یې ولس د پاللو په رسۍ کلک تړل شوی او له پاللو یې مخ نه اړوي او بیا یې هم پالي او په پاللو یې ځانونه مکلف ګڼي، حتی تر دې چې ددغو ناسمو دودونو، نه پالنه د ځان او کورنۍ لپاره شرم او عار ګڼي، دا دودونه ډېر زیات دي، لکه: ولور اخېستل، په ودونو کې بېځایه لګښتونه کول، د ماشوم د پیدایښت پرمهال ډزې کول.... خو ځینې بیا ډېر بد دي، چې پخوا وختونو کې د ستونزو د حل لپاره رامنځته شوي، خو که فکر ورته وکړل شي، ستونزه حلوي نه، بلکې ستونزې زیږوي، لکه په بدو کې د انجونو ورکول، چې په اصل کې د یو انسان ژوند د بل لپاره قرباني کول دي، مجرم به ورور، پلار او یا د کورنۍ بل غړی وي، خو سزا او جزا یې خور او لور ګالي او داسې..

د داسې ناسمو او ناوړه دودونو غندنه په ولس کې د ډېرو خلکو لخوا شوې ده او په ولسي-ادب او په ځانګړي توګه په لنډیو کې ډېره زیاته شوې ده او په لنډیو کې تر ډېره بیا د هغو خلکو

غړ دی، چې د داسې دودونو قرباني شوي دي.

د پښتنو دغه ناوړه دودونه که څه هم د پخوا وختونو په تناسب اوس کم شوي دي او په ډېرو سيمو کې خلك ترې کرکه او نفرت کوي او نه يې پالي، خو په ځينو سيمو کې همدااوس هم پالل کيږي او ځينې پښتانه يې په پالنه ځان مکلف ګڼي.

**په پښتو لنډيو کې د ناوړو دودونو غندنه**

دا چې ما په دود او بيا په ناوړو دودونو بحث ترسره کړ او لړو ډېر مو وپېژندل، راځو په هغه لنډيو بحث کوو، چې دغه دودونه پکې غندل شوي دي. په پښتو کې ډېرې زياتې لنډۍ داسې راغلي دي، چې جوړونکو يې د خپل وخت سره د ټولنې ستونزې بيان کړي، چې د دې ستونزو له ډلې يوه ستونزه هم د ناوړو دودونو او رواجونو پالنه ده، پښتانه د خپل سپيڅلي کلتور په دايره کې داسې يو شمېر دودونه لري، چې هغه زموږ او ټولنې په تاوان دي، خو دا چې د پخوانيو زمانو راپاتې دي، نو په ځينو سيمو کې اوس هم پالل کيږي، د دغه دودونو له ډلې يو دود دا هم دی، چې کله نجلۍ کوژده کيږي، د کورنۍ غړي يې ترې پوښتنه نه کوي، که څه هم د اسلام مبارك دين د رضايت په خبره تاکيد کړی دی، خو په ډېرو سيمو کې دې خبرې ته هيڅ پام نه کيږي، د نجونو څخه هيڅ پوښتنه نه کيږي، مور، پلار او ورونه يې په خپله خوښه د يو چا په نوم کوي او نجلۍ هيڅ نه خبريږي، چې دغسې ناسم دودونه وروسته ټولنه د يو لوی جنجال او ستونزې سره مخ کوي، چې ډېری وخت د ځان وژنې او تېښتې پېښې هم رامنځته کيږي، د دغه دود په وړاندې نجلۍ د رمز په ژبه په لنډيو کې خپل د زړه درد ته داسې انعکاس ورکوي:

صورت زما واك يې د بل دی — خدايه ته واخلې دا بيواکه صورتونه

(خان ګل، ۱۴۰۱/۱۲/۲۶).

په ځينو سيمو کې انجونې يوازې د خپلې کورنۍ په دايره کې کوژده کوي، چې تر ډېره دغه کوژده د خپل کاکا زوی سره ترسره کيږي، که د انجلۍ خوښه وي او که نه وي، خو کاکا زوی به ورته مېړه کيږي، چې د داسې جبري رشتو نه انجونې بيا د ټول عمر لپاره رنځ او درد وړي، ځکه خو وايي:

زما دې هر ارمان وژلی — د کاکا زويه خدای دې درکړي دوزخونه

(احمدي، ۱۴۰۲/۱/۲).

په ډېرو کورنيو کې انجلۍ د ژوند د ملګري د انتخاب حق نه لري، خو که جرأت وکړي او د خپلې خوښې کس د انتخاب خبره وکړي، نو دغه خبره په ډېره مشکله خپلې مور سره شريکولی شي، خو کورنۍ بيا د نجلۍ انتخاب ته په سپکه ګوري او د ردولو هڅه يې کوي، چې لاندې لنډۍ يې انځور وړاندې کوي:

مېړه به مې کړي دربه مې نکړي          بیگاه مې مور راته صفا ویلي دینه
(خان گل، ۱۴۰۱/۱۲/۲۶).

په ځینو سیمو کې بیا د انجلۍ لخوا د هلك خوښول یا هلك ته کتل عیب گڼل کیږي، حتی که چېرته په کومه انجلۍ داسې سند پیدا شي، چې کوم هلك یې د واده لپاره خوښ کړی او یا کوم هلك ته یې کتلي دي، خبره د وهلو او ټکولو هم اوړي او د مرگ خطر هم په کې پیداکیږي، لکه په لاندې لنډۍ کې چې وایي:

دا ستا په تش دیدن مې وژني          ناسکه لور یمه لمن مې توروینه
(محمدیوسف، ۱۴۰۲/۲/۸).

په همداسې سیمو کې چې دا دودونه ډېر مهم گڼل کیږي او د سیمې خلك یې په پالنه ځان مکلف گڼي، خو که هلك لخوا انجلۍ خوښه شي، دومره یې جدي نه گڼي او دا عادي خبره ده، یعنې ډېرې دودونه داسې دي، چې د ټولنې د یوې برخې یعنې د ښځینه لپاره په کې سختگیري ده او د نارینه لپاره دومره سخت نه نیول کیږي، خو په لږو ټولنو کې د هلکانو لپاره هم په کې سختگیري شته، لکه لاندې لنډۍ د یو ځوان شکایت دی:

د پښتنو بده وراجه          په تش کتو مې له تمام کلي شړینه
(احمدي، ۱۴۰۲/۱/۲۲).

د ناوړو دودونو له ډلې موږ یو بل دود د ولور په نوم لرو، که څه هم د اسلام مبارك دین مهر د انجلۍ حق گڼلی او په مېړه باندې یې لازم گڼلی چې خپلې مېرمنې ته به یې ورکوي، خو موږ بیا د دود له مخې د مهر نوم په ولور اړولی دی او هغه اندازه چې د اسلام مبارك دین ټاکلې تر ډېره یې په نظر کې نه نیسو او بله دا چې دغه ولور چې د انجلۍ حق دی، نجلۍ ته نه ورکول کیږي، بلکې د هغې د کورنۍ د غړو لخوا اخېستل کیږي او مصرفیږي او انجلۍ ته یې په اړه هیڅ معلومات نه کیږي، چې دغه دود له واده مخکې د زوم لپاره ملا ماتوونکی دود دی او د همدې دود له مخې زیاتره ځوانان نورو هېوادونو ته د مزدورۍ او خوارۍ په موخه په ستونزمنو لارو سفرونه کوي، ترڅو د خسر د کور لپاره ولور وگټي، چې ډېری وخت بیا نورو هېوادونو ته تللي ځوانان په نشه یي توکو او نورو ناوړه کړنو اخته کیږي او په نوم شوې انجونې یې دلته د راتگ ورځې شماري. دغه په ولور گټلو پسې نورو هېوادونو ته د مهاجرت انځور په لاندې لنډۍ کې ډېر ښه وړاندې شوی دی:

د پښتنو پېغلو ولوره          زمونږ له کلي وړوکي تا ورك کړي دینه
(احمدي، ۱۴۰۲/۱/۲۲).

کله چې د دغه بد دود له مخې زوم لوړه اندازه ولور خلاص کړي او واده وکړي، نو بیا د انجلۍ ژوند له کړاو او ستونزو ډك شي، د زوم د کورنۍ لخوا ورته د ډېر ولور خبره هر وخت ښکته او پورته کیږي، چې د انجلۍ ژوند یې تریخ کړی وي، لنډه داچې ددې بد دود له مخې په

افغانۍ ټولنه کې واده کول د زوم او ناوې دواړو لپاره د چړې په تېغ تېرېدل دي.

که څه هم انجونې نه غواړي، چې دوی دې د ولور په نوم خرڅې شي، خو داچې د پښتنو انجونو په ختېځ کې شرم او حیاء نغښتې ده، نو په همدې اساس د مور، پلار او ورونو په وړاندې چپه خوله پاتې کیږي او خپل ولور او راتلوونکي ژوند په تړاو د زړه خبرې همداسې په زړه پرېږدي، که ډېره کم حوصله شي، نو د رمز په ژبه په لنډیو کې د خپل زړه درد ته انعکاس ورکوي او وایي:

چې ډوډۍ خورم دادا قاریږي     چې روپۍ شرنګ کړي دادا شین د خندا شینه
(لېوال، ۱۴۰۲/۱/۲۲).

پورته لنډۍ چې له ډېره محرومیته ډکه ده، دوه برخې پکې ډېرې د بحث وړ دي، یو دا چې په ځینو کورنیو کې انجونو ته د کورنۍ د نارینو مخکې د خبرو څه چې د ډوډۍ خوړولو اجازه هم نشته او بله همدا د ولور خبره ده، چې پلرونه یا میندې د لورګانو ولور ته خوشاله وي.

د همدې بدو دودونو له امله ډېرې انجونې بې له رضایته په لرو سیمو کې کوژده او واده کیږي، چې بیا په کلونو، کلونو د خپلې کورنۍ نه لرې ژوند تېروي او هره لحظه د خپلې کورنۍ د لیدلو هیلې او ارمانونه له ځان سره وړي، چې په لاندې لنډۍ کې همداسې یوه هیله او ارمان نغښتی دی:

خدایه دا پورې غر سوری کړې     چې راښکاره شي د ابۍ دادا کورونه
(لېوال، ۱۴۰۲/۱/۲۲).

غر نه سوری کیږي، خو له لنډۍ د یوې مسافرې مېرمنې هغه ارمان څرګندیږي، چې د خپلې کورنۍ، مور او پلار لیدل دي.

چې مې ابۍ دادا خبریږي     زما به یې زنه په ململ ترلې وینه
(محمدیوسف، ۱۴۰۲/۲/۸).

دا لنډۍ بیا د دوه اړخونو د بحث وړ ده، یو اړخ یې همدا د کورنۍ نه لرې والی دی، خو بل اړخ یې بیا ډېر له درده ډک دی او هغه دا چې د خسر په کورنۍ کې رنج او درد وړي، په مقابل کې یې ظلم او زیاتی کیږي، خو دا داسې فکر کوي، چې په ژوند به مور او پلار ونه ګورم، خو په مرګ به مې وګوري.

هغه انجونې چې د همداسې بدو رواجونو ښکار شوي او بې پوښتنې کوژده شوي دي، نو بیا چې کله د خسر کور کې خوشاله نه وي، دغه وضعیت او درد په لنډیو کې داسې وایي:

زما ابۍ دادا ته وایه     خوشاله نه یم له ناکامه ژوند کومه
(محمدیوسف، ۱۴۰۲/۲/۸).

په دې لنډۍ کې د درد ترڅنګ یو بل څه چې د بحث وړ خبره ده، هغه داچې د مور او پلار پرېکړې درناوی په کې شته او یوه لور مور او پلار ته وایي چې په رشته خوشاله نه یم، خو بیا هم

ژوند کوم.

د پښتنو په ناوړو رواجونو کې يو رواج دا هم دی، چې يوه ښځه کونډه شي، نو مجبوره ده، چې بل واده به د مړ شوي مېړه په کورنۍ کې کوي او د رواج له مخې په بله کورنۍ او بل ځای کې د واده کولو اجازه نه لري، که خوښه يې وي او که نه وي، نو د لېور (مېړه ورور) يا د همدې کورنۍ بل کس سره به واده کوي، همدې دود ته په لاندې لنډۍ کې انعکاس ورکړل شوی دی:

لالیه ستړګو کې مې ته يې     چې د لېوره کټ ته ورځم پټې يې کړمه

(دلسوز، ۱۴۰۱/۱۲/۱۴).

دا هم يو رواج جوړ شوی، چې کونډې ښځې د کلي خلکو لخوا بدبخته ګڼل کيږي او وايي چې که بدبخته نه وه، نو مېړه به يې نه مړ کېدلو.

الله دې دا وارې راجوړ کړه     خلک به وايي بخت يې خوار دی يار يې مرينه

(لېوال، ۱۴۰۲/۱/۲۲).

د همدې بدو دودونو په لړ کې يو ناسم او ډېر بد دود د انجونو په بدو کې ورکول دي، دا هغه ناوړه دود دی، چې مجرم او قاتل په کې بخښل کيږي، خو په مقابل کې يې يو بې ګناه او عاجز انسان محکوميږي او د ټول ژوند لپاره د پلار، ورور، کاکا او ياد کورنۍ د بل غړي د جرم او قتل په مقابل کې د مقتول په کورنۍ کې د رنج، ظلم او پيغورونو په رسۍ تړل کيږي. نو ځکه وايي:

ورونو د بدو پور کې ورکړم     له سپيو بد ژوند تېروم مجبوره يمه

چيغې وهي رضاء يې نه ده     نامرده ورونه خور په بدو ورکوينه

زه بې ګناه قاتل مې ورور دی     جرګه راغلې ما سوره کې ورکوينه

(احمدي، ۱۴۰۲/۱/۲۲).

په ډېرو سيمو کې دا دود دی، چې د انجونو په تړاو هره پريکړه کيږي، هغوی يې د نه قبلولو جرأت نه لري او هره پريکړه په پټو سترګو قبلوي، نو ځکه وايي:

د پښتنو بده رواجه     زما په خوله دې لاس راکښود ګونګه شومه

(عبدالجبار، ۱۴۰۲/۲/۱۰).

خو په ټوله کې د داسې دودونو قرباني تر ډېره ښځينه وي او ښځينه بيا د خپل زړه د تسليت په خاطر دا هر څه خپل بخت او نصيب ګڼي، نو ځکه وايي:

د نصيب جنګ دی څه به کيږي     د ليوني سره مې روغه نه راځينه

(دلسوز، ۱۴۰۱/۱۲/۱۴).

## پايله

د پښتنو په کلتور کې دودونه ډېرد بحث وړ موضوع ده، چې د پخوا زمانو څخه راپاتې دي او تراوسه يې خلک پاللو ته ژمن دي، په دې دودونو کې ډېر ښه دودونه هم شته، چې په واقعي ډول د ټولنې ستونزې پرې هواريږي، لکه تېره ايښودل، ننواتې او نور... خو ځينې دودونه داسې

دي، چې له ګټې يې تاوان زيات وي، دا دودونه ډېر دي، لکه د ماشوم د پيدايښت او يا واده کولو پرمهال ډزې کول، واده کې لوړ مصارف کول، ولور اخېستل، په مړي پسې د رواج په نوم خيرات کول، په بدو کې د ښځو ورکول او نور....هغه دودونه او رواجونه چې ښه دي او د ټولنې په ګټه دي، نو په پاللو کې يې بايد موږ ځانونه ژمن وګڼو، هغه چې بد دودونه دي، بايد هڅه وکړو، چې د منځه يې يوسو، ځکه چې د دې بدو دودونو غندنه له پخوانيو زمانو راهيسې ولس هم کړې ده، چې ښې بېلګې يې همدا لنډۍ دي، چې په دې څېړنه کې ځای شوي دي، لکه دا لنډۍ:

چې دوډۍ خورم دادا قاريږي    چې روپۍ شرنګ کړي دادا شين د خندا شينه

چې د يوې پېغلې د زړه درد په کې انعکاس شوی دی او دې ته ورته نورې ډېرې بېلګې... نو د بدو دودونو د له منځه وړلو لپاره بايد ټولنه سره لاسونه ورکړي او ددې دودونو ريښې د ولس څخه د تل لپاره وباسي.

## مأخذونه

### الف) کتابونه


ازمون، لعل پاچا.(۱۳۹۵). *پښتو فولکلوري ادبيات*.کابل:پکتوس خپرندويه ټولنه،.

رشيدي، جمشېد.(۱۳۹۹). *حماسي ادبيات*.کابل:انتشارات نويسا.

روهي، محمدصديق.(۱۳۹۴). *فولکلور پېژندنه* (سريزه او بيا کتنه: سيدغني غني).جلال باد:ګودر خپرندويه ټولنه.

زېور، زېور الدين. (۱۳۹٦). *دپښتو ادبياتو اصطلاحي قاموس*.جلال اباد:مومند خپرندويه ټولنه.

سلطاني، رحمت الله شهبازخېل.(۱۳۹۵). *د افغانستان د کلتور تاريخ*.کابل:مستقبل خپرندويه ټولنه.

لايق، سليمان.(بې تا). *پښتو لنډۍ*. پېښور: نيو کابل کتاب پلورنځی.

وفا، داود.(۱۳۹۳). *دفوکلور پېژندنې لارښود*. جلال باد: مومند خپرندويه ټولنه.


### ب) مرکې


احمدي، عبدالکريم. استاد، ۳۳کلن، ماستر، ((په پښتو لنډيو کې د ناوړه دودونو يادونه))، هجرت الله قدردان، جوزجان، شبرغان. ۱۴۰۲/۱/۲۲.

خان ګل. بزګر، ۵۵کلن، نالوستی، ((په پښتو لنډيو کې د ناوړه دودونو يادونه))، هجرت الله قدردان، جوزجان، شبرغان. ۱۴۰۱/۱۲/۲٦.

دلسوز، جاويد. ريکشوان، ۳۰کلن، ۱۲ پاس،((په پښتو لنډيو کې د ناوړه دودونو يادونه))، هجرت الله قدردان، جوزجان، شبرغان. ۱۴۰۱/۱۲/۱۴.

عبدالجبار. بزګر، ۵۰کلن، نالوستی، ((په پښتو لنډيو کې د ناوړه دودونو يادونه))، هجرت الله قدردان، جوزجان، شبرغان. ۱۴۰۲/۲/۱۰.

لېوال، عبدالوکیل. استاد، ۳۳کلن، ماستر، ((په پښتو لنډیو کې د ناوړه دودونو یادونه))، هجرت الله قدردان، جوزجان، شبرغان. ۱۴۰۲/۱/۲۲.
محمدیوسف. بزگر، ۴۵کلن، ۱۲پاس، ((په پښتو لنډیو ک(ې د ناوړه دودونو یادونه))، هجرت الله قدردان، جوزجان، شبرغان. ۱۴۰۲/۲/۸.